مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۱/۰۹/۲۷

مابنامی مجلس

(۲۵)



میلمه، لکه ویریدلی چې وي؛ نارامه و. غوښتل یې څه ووایي؛ خو الفاظو ور سره یاري نه کوله.

ما ویل اندیواله، خیریت خو دی؟ ولې داسې اوتر یې؟ لکه چې خوب کې دې پیریان لیدلي؟

زما له خبرو سره یې د ارام ساه واخیسته، پر وچو شونډو یې ژبه راتېره کړه او بیا یې ویل:

هغه د ستنو سرونو کې دې خلک ولیدل؟

ـ نه، البته برقیان به و او مزي به یې تړل.

ـ نه، هغه جسد... ژبه یې وچه شوه.

ـ جسدونه د چا ول؟

ـ د انسان تښتوونکیو. وژلي به یې ول؛ نو ځوړندول یې ولې؟ د دوی لیدل خو سړی ډاروي.

ـ د ځوړوندولو موخه همدا وي چې خلک وډار شي. دا خو یې ډېر ښه کار کړی.

ـ په تعجب یې راوکتل؛ دا ته کله داسې سخت زړی شوی یې؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ د شهید اباسین د پرې شوو ګوتو له لیدلو وروسته په زنځیرونو د تړلي بلخي ماشوم عبدالروف له لیدلو وروسته او...

میلمه، ځان ته پیاله ډکه کړه. ماته یې هم چای واچوه او بیا یې ویل: دا دوه ماشومان څوک دي؟ او څه کیسه یې ده!؟

ـ اباسین، د څو خویندو ایکي یو ورور و. وه یې وتښتاوه، له پلاره یې ورته پیسې غوښتې. پلار بې چاره سره یې هومره پیسې نه وې. اختطافچیانو د لاس تنکۍ ګوتې ور پرې کړې، کاغذ کې یې کلوله کړې او پلار ته یې ور ولیږلې. چې پلار یې کاغذ پرانیست نو تړپ شو او د خپل زوی.... له دې سره میلمه داسې چیغه کړه، لکه چا چې یې ګوتې ور پرې کړې وي.

بیا مې د بلخي ماشوم عبدالروف نکل راواخیست، چې له مزار شریف یې شاوخوا لس میاشتې پخوا تښتولی. د شکنجو او چیغو ویډیو ګانې یې وخت نا وخت خپریږې، چې مورکۍ یې څو ځلې په لیدلو کوما ته هم تللې ده.

خاموشې شوه، چې ګورم د میلمه سترګې پټې دي، سر یې ځوړند دی او بیهوښۍ ته تللی. په منډه مې ډکه کوزه راوړه او چې لپاسه مې پرې خالي کړه؛ نو سترګې یې وغړولې.

اخوا دیخوا یې کتل، اوښکې یې څڅیدلې. یو دم یې غوږونو کې ګوتې کیښودې، کله یې د حجرې یوه دیوال ته کتل، کله بل ته. لړزې پسې واخیست: اباسین جانه،

روف جانه!

زړه مې چوي.ستاسو د مظلومیت کیسې نشم اوریدې. نور نشم در کتلی او...

میلمه داسې د حجرې دیوالونو ته کتل لکه دواړه چې غټ سکرینونه وي،په یوه کې اباسین او بل کې عبدالروف ښکاري.

میلمه تر ډېره سلګیو نیولی و. پیاله مې ور ډکه کړه، ور وړاندې مې کړه. شیبه پس یې سرې سترګې راواړولې:

انسان تر دې حده هم پست او ظالم کیدای شي چې آن په تنکیو ماشومانو دومره ظلم وکړي؟

ـ هو، ځکه خو مجرمینو ته اسماني او وضعي قوانینو کې سختې سزاوې ټاکل شویدي. د ټولنې د نظم لپاره او د دې لپاره چې نور ماشومان له داسې وحشت سره مخ نشي، سیاستاً او تعزیري سزاوې هم ورکول کیږي.

میلمه غلی و، لکه بیا چې د شهید اباسین پرې شوې ګوتې او په زنځیرونو تړلی عبدالروف ور یاد شوی وي.یوه شیبه یې ښه سم وژړل او بیا یې ویل:

فقط تحقیق کې دې ډېر دقت کوي، چې اصلي اختطافچي یې پیدا کړ، هغه دې په نوبت هره ستنه کې ځوړند پریږدي!

میلمه ، پیاله سرچپه پتنوس کې کیښوده او بیا یې ویل: په اختطافچیانو د ژوند بیړۍ دغه شی چپه غواړم.

پورته شو او بیا یې د تګ په حال کې ویل:

که عبدالروف راخوشې شو، زیری را باندې وکړه.

او

اباسین

له دې سره یې چیغه کړه.

ژر مې کاغذي دسمال ور وړاندې کړ چې اوښکې وچې کړي. خو هغه لړزې نیولی و. دسمال ته یې لاس نه ور وړه، غیر اختیاري یې ناري وهلې:

نه، نه، دې کې د اباسین پرې شوې ګوتې دي. دا اختطافچیانو رالیږلی!

د میلمه دې غیر اختیاري خبرو وډار کړم. هغه له حجرې ووت، دومره یې وډار کړم چې اوس شیبه په شیبه ایت الکرسي وایم او خپله ځان دموم.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ